قرآني بیان

# د عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ اوصاف

د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه إمام مساجد (دعوتِ اسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

**13-June-2025**

## د جُمعَةُ المبارک

(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 13 جون، کال 2025ء (16 ذو الحجة الحرام، کال 1446ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# د عثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اوصاف

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- پهٔ يو رکعت کښې به يې د ټول قرآنِ پاک تلاوت کولو
- چې زما رَبّ زما نه ناراضه نهٔ شي (واقعه)
- وِيره او اُميد دواړه ضروري دي
- د رحمت د اُميد اصلي مطلب

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

***For Feedback*** :+92 315 2692786

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ ؕ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡم ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ؕ

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰہ
اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰہ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰہ

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: اے خلقو! بے شکه د قيامت په ورځ به د دې د وحشتونو (يعني ويرو) او حساب کتاب نه زر نجات حاصلوونکے هغه کَس وي، چا چې په ما باندې په دُنيا کښې په کثرت سره درود لوستلے وي۔ (1)

دولت جو چاہو دونوں جہاں کی کر لو وظیفہ نامِ مُحَمَّد
روزِ قیامت میزان و پُل پر دے گا سہارا نامِ مُحَمَّد
پوچھے گا مولیٰ لایا ہے کیا کیا میں یہ کہوں گا نامِ مُحَمَّد (2)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

اَمَّنۡ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّیۡلِ سَاجِدًا وَّ قَآئِمًا یَّحۡذَرُ الۡاٰخِرَةَ وَیَرۡجُوۡا رَحۡمَةَ رَبِّهٖ ؕ

صَدَقَ اللّٰہُ الۡعَظِیۡم وَصَدَقَ رَسُوۡلُهُ النَّبِیُّ الۡکَرِیۡم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

[1]… مسندِ فردوس، جلد:5، صفحه:277، حديث:8175۔

[2]… قبالۂ بخشش، صفحه:133 134 135 ملتقطًا۔

# د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ مختصر تعارف

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** ❁ **حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ صحابئ رسول دے ❁ د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خوږې ترور اُمِّ حکيم رَضِیَ اللہُ عَنۡہا نمسے دے يا داسې وايئ چې يو قِسم له پۀ لګه لرې رشته کښې د مالِک جنّت، قاسِمِ نعمت صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خوريے کيږي ❁ هغوئي پۀ سابقينِ اَوّلين کښې دے يعني پۀ ابتداء کښې يې اِسلام قبول کړے وو او پۀ اِسلام کښې داخل شوے وو، پۀ اِسلام قبلولو کښې د هغوئي څلورم يا پينځم نمبر دے ❁ پۀ **عَشَرَہ مُبَشَّرَہ** (يعني د خوږ آقا، مکي مَدَني مصطفے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د خُلې مبارکې نه د جنّت پۀ زيرې اوريدونکو لسو صحابۀ کرامو رَضِیَ اللہُ عَنۡہُم) کښې دے ❁ سرکارِ اعظم، رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ سره دومره مَحَبَّت کولو چې هغوئي پۀ يوې پسې بَله خپلې دوه شهزادګۍ **حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ ته پۀ نکاح کښې ورکړې۔ (1) پۀ دې وجه هغوئي ته ذُو النُّورَين (يعني د دوو نُورونو والا صحابي) هم وئيلے شي۔

نُور کی سرکار سے پایا دوشالہ نُور کا | ہو مُبارک تُم کو ذُو النُّورَین جوڑا نُور کا (2)

❁ پۀ حديثِ پاک کښې دي: اللّٰه پاک ما ته وَحي وفرمائيله چې زۀ د خپلو دوو لوڼو نکاح د عثمان سره وکړم۔ (3) ❁ پۀ يو حديثِ پاک کښې يې وفرمائيل: که زما 100 لوڼه وے، پۀ هغوئي کښې يوه وفات کيدله نو ما به دويمه عثمان له پۀ نِکاح کښې ورکوله، چې هغۀ وفات کيدله نو ما به دريمه عثمان له پۀ نِکاح کښې ورکوله، تر دې پورې چې ما به خپلې سل واړه شهزادګۍ پۀ يوې پسې بَله د عثمان پۀ نکاح ورکوله۔ (4)

❁ د مولائے کائنات، مولیٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ نه چې د **حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللہُ عَنۡہُ پۀ باره

---

1 …نزہۃ القاری، جلد:1، صفحہ:544، خلاصۃً۔

2 …حدائِقِ بخشش، صفحہ:246۔

3 …معجم الاوسط، جلد:2، صفحہ:346، حدیث:3501۔

4 …کنزُ العُمال، کتاب: الفضائل، جلد:7، جُز:13، صفحہ:21، حدیث:36201۔

کښې پوښتنه وکړے شوه نو اوئې فرمائيل: **عثمان هغۀ دے چا ته چې فرښتے ذُو النُّورَین** وائي، د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ځوم دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته د جنَّت ضمانت ورکړے۔ (1)

نبی کے نور دو لے کر وہ ذُو النُّورَین کہلائے | انہیں حاصِل ہوئی یوں قربتِ محبوبِ رحمانی (2)

✿ د اِسلام د دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شهادت نه پس د مسلمانانو پۀ کثرتِ رائے سره **حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خليفه مقرر شو، (3) تر 12 کالو پورې هغوئي خليفه وو، (4) د 40 ورځو د سختې محاصرې نه پس، پۀ 18 ذُو الحجه پۀ 35 هجرى کښې ډير پۀ ظلم زور سره شهيد کړے شو۔ (5)

پۀ قرآنِ کريم کښې پۀ ډيرو ځايونو کښې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شان او عظمت بيان موجود دے، د بيان پۀ شروع کښې مونږه د 23 سيپارې، د سورۀ زُمَر، آيت: 9 د يوې حصې د اوريدو سعادت حاصل کړو۔

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ درې اوصاف

الله پاک فرمائي:

اَمَّنْ هُوَ قَانِتٌ اٰنَآءَ الَّیْلِ سَاجِدًا وَّ قَآىٕمًا یَّحْذَرُ الْاٰخِرَةَ وَ یَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ ؕ

(پارہ 23، سورۂ الزمر: 9)

**ترجمهٔ کنزُالعرفان:** آيا هغه کس کوم چې د سجدې او قيام پۀ حالت کښې د شپې وختونه پۀ فرمانبردارى کښې تيروي، د اخرت نه ويريږي او د خپل رب د رحمت اُميد ساتي (آيا هغۀ به د نافرمانو پۀ شان شي؟)

---

1... رياض النضرة، مناقب: عثمان بن عفان، اسمه و کنيت، جز: 3، صفحه: 6۔
2... وسائل بخشش، صفحه: 584۔
3... رياض النضرة، الباب الثالث، الفصل العاشر، جز: 3، صفحه: 48، ماخوذًا۔
4... مسندِ امام احمد، مسند الانصار، جلد: 9، صفحه: 98، حديث: 22547۔
5... نزہۃ القاری، جلد: 1، صفحه: 544۔ کراماتِ عثمان غنی، صفحه: 3۔

د یو قول مطابق دا آیت مبارک د مسلمانانو د دریم خلیفه، اَمِیرُ المُؤمِنین **حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پهٔ شان کښې نازل شوے- (1) او پهٔ دې آیت کښې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ درې صفتونه بیان شوي دي:

## (1): د شپې عِبَادت کوونکے

وړومبے صِفت دا بیان شو چې **حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د شپې ډیرې سجدې کوونکے او نـمونځونه کوونکے دے- پهٔ مُصَنَّف اِبنِ ابي شیبه کښې روایت دے، د مسلمانانو د دریم خلیفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ معمول مبارک وو چې هغوئي به همیشه نفلي روژې نیولې او د شپې پهٔ وړومبۍ حصه کښې به یې ارام فرمائیلو او باقي شپه به یې پهٔ عبادت کښې تیروله- (2)

## پهٔ یو رکعت کښې به یې د ټول قرآن کریم تلاوت کولو

د **حضرت عثمانِ غني** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بي بي محترمه فرمائي: حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ به ټوله شپه عبادت کولو او (د هغوئي د قرآنِ پاک د تلاوت سره داسې محبت وو چې) پهٔ یو رکعت کښې به یې د ټول قرآنِ پاک تلاوت کولو- (3)

حضرت عبد الرحمان تَیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ فرمائي: یوه شپه زهٔ د کعبې شریفې پهٔ خوا (یعني مسجدِ حرام کښې) ووم، ما د ماسخوتن نـمونځ هم هلته ادا کړو، بیا د مقامِ ابراهیم پهٔ خوا کښې ودریدم، پهٔ دې کښې د مسلمانانو دریم خلیفه اَمِیرُ المُؤمِنین حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ تشریف راوړلو، هغوئي د سورۀ فاتحه نه د قرآنِ کریم تلاوت شروع کړو او تلاوت یې کولو، کولو، تر دې پورې چې د ټول قرآنِ کریم تلاوت یې وکړو- (4)

---

1...صِراطُ الجنان، پاره:23، الزمر، تحت الآیه:9، جلد:8، صفحه:438 439 ماخوذاً۔
2...مصنف ابن ابي شیبه، کتاب صلاة التطوع، باب من کان یامر بقیام اللیل، جلد:2، صفحه:173، حدیث:6۔
3...الزہد امام احمد، زُہد: عثمان بن عفان، صفحه:105، حدیث:673۔
4...زُہد لابن المبارک، باب: فضل ذکر الله، صفحه:452، حدیث:1276 خلاصةً۔

سُبْحٰنَ الله! غور وکړئ چې د عبادت څومره ذوق دے، په یو رکعت کښې د ټول قرآنِ کریم تلاوت کول څومره د همت خبره ده او په دې باندې اِستقامت ته هم وګورئ! هغوئي به دا نیک کار روزانه کولو- د هغوئي هم دا هغه شان دے کوم چې په قرآنِ کریم کښې بیان شو:

هُوَقَانِتٌ اٰنَآءَالَّیۡلِ سَاجِدًاوَّقَآ ىِٕمًا

یعنې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ډیر د اوچت شان والا دے د چا شپې چې به په سجدو او قیام کښې د الله پاک په عبادت کولو، تابعداری کښې تیریدلې-

## د شپې د عبادت کولو فضیلت

کاش چې زمونږه هم داسې سعادت نصیب شي، مونږه هم د شپې عبادت وکړو، د ماسخوتن نـمونځ د جَمعې سره ادا کړو، بیا کوشش وکړو او څۀ نا څۀ نفلونه وکړو، د قرآنِ کریم تلاوت وکړو، ذِکر اذکار وکړو، درودِ پاک لولو، که الله پاک توفیق راکړې او تهجد هم ادا کړو، د تهجدو په وخت اِستِغفار (مثلاً د اَستَغفِرُ الله! اَستَّغفِرُ الله تسبیح) کوو، د سحر نـمونځ هم د جَمعې سره ادا کړو، اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیم! د شپې د عبادت کولو ثواب به مو نصیب شي، راځئ چې د ترغیب د پاره د شپې د عبادت کولو یو څو فضائل واورو:

❁ خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: اے خلقو! سلام عام کړئ! په خلقو خوراک کوئ ! او چې کله خلق اوده وي نـمونځ کوئ! تاسو به په سلامتیا سره جنَّت ته داخل شئ- (1) ❁ په حدیثِ پاک کښې دي: زما د اُمت د ټولو نه شرف والا خلق اهلِ قرآن او اصحابُ اللَّیل (یعنې د شپې عبادت کوونکي) دي- (2)
❁ په یو حدیثِ پاک کښې دي: هغه دوه رکعتونه کوم چې بنده د شپې په مینځ کښې ادا

1...ترمذی، ابواب صفة القیامة...الخ، صفحه:589، حدیث:2485

2...شُعَبُ الایمان، باب فی تعظیم القرآن، جلد:2، صفحه:556، حدیث:2703۔

کوي، د هغهٔ د پاره د دُنيا و ما فيها (دُنيا او څهٔ چې پهٔ دُنيا کښې دي د دي) نه بهتر دي، که ما دا پهٔ خپل اُمت باندې مشکل نهٔ ګڼل نو دا به مې پهٔ دوئي فرض کړي وو- [1]

## د شپې عبادت د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د شپې د ويخ پاتې کيدلو (يعني د شپې د عبادت کولو) يو اهم فضيلت دا هم دے چې دا زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت مبارک هم دے- د صحابئِ رسول حضرت ابو هريره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روايت دے، د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به روژې نيولې او پهٔ دومره کثرت سره به يې نـمونځونه کول چې د هغوئي مبارکې ښپې به وپړسيدلې- [2] اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت عائشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ عَنْہا فرمائي: سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به قِيَامُ اللَّيل (د شپې نفلي نـمونځ) هيڅکله هم نهٔ پريښودو- [3] د اُمُّ الْمُؤمِنِين حضرت اُمِّ سلمه رَضِیَ اللہُ عَنْہا د روايت مطابق د نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دا معمول مبارک وو چې د شپې به يې نـمونځ ادا کولو، بيا به چې يې څومره وخت نـمونځ ادا کړو، هٰغه همره وخت به يې ارام کولو، بيا به راپاڅيدو او چې څومره ارام به يې کړے وو، هٰغه همره نـمونځ به يې ادا کولو، بيا به يې د نـمونځ کولو پهٔ مقدار ارام فرمائيلو، داسې به يې کول تر دې پورې چې د سحر د نـمونځ وخت به شروع شو- [4]

صحابئِ رسول حضرت حذيفه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: يوه شپه د الله پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ جومات کښې نـمونځ ادا کولو، ما موقع غنيمت وګڼله او پهٔ نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پسې شاته ودريدم او نـمونځ مې شروع کړو- د الله پاک

---

1…الزہد لابن المبارک، جزء:10، صفحه:364 حديث:1289۔
2…تاریخ مدینه دمشق، جلد:4، صفحه:141۔
3… ابوداؤد، کتاب التطوع، باب قیام اللیل، صفحه:214، حدیث:1307۔
4…ترمذی، کتاب فضائل القرآن، باب ما جاء کیف کانت قراءة النبی، صفحه:679، حدیث:2923 ملتقطًا۔

رسول، رسولِ مقبول صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ نـمونځ کښې د سورهٔ بَقَرَه تلاوت شروع کړو، ما پهٔ زړهٔ کښې سوچ کولو چې حضور، جانِ کائنات صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به 100 آیتونه ولولي او رکوع به وفرمائي خو رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ 100 رکعتونو رکوع ونکړه بلکې مخکښې یــې لوستلو، بیا ما سوچ وکړو چې پهٔ 200 آیتونو بهٔ رکوع وفرمائي خو نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ 200 آیتونو باندې هم رکوع ونکړه- بیا ما سوچ وکړو چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به پهٔ ټوله سورهٔ بقره پوره کیدو (یعنې د دوه نیمو سیپارو) پهٔ پوره کیدو رکوع فرمائي- سورهٔ بقره پوره شوه خو نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم بیا هم رکوع ونکړه بلکې سورهٔ آلِ عِمران یــې شروع کړو- بیا ما سوچ وکړو چې حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د سورهٔ آل عِمران پهٔ تلاوت پوره کولو رکوع وکړي- (خو زما سوچ دا ځل هم صحیح نهٔ شو)، جانِ عالَم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سورهٔ آلِ عِمران مکمل کړو (یعنې پاؤ کم څلور سیپارې یــې تلاوت کړې) خو رکوع یــې ونکړه بلکې سورهٔ نِسَآء یــې هم شروع کړو-

حضرت حذیفه رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: ما سوچ وکړو چې کیدے شي حضور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د سورهٔ نِسَآء پهٔ تلاوت پوره کولو رکوع وکړي، بیا هم زما سوچ صحیح نهٔ وو، جانِ کائنات، فخر موجودات صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سورهٔ نِسَآء مکمل کړو (یعنې پاؤ باندې پینځه سیپارې پوره شوې)، بیا رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سورهٔ مائِده شروع کړه او د سورهٔ مائِده د تلاوت پوره کولو نه پس (یعنې تقریباً پهٔ پاؤ باندې شپږو سیپارو تلاوت کولو) یــې رکوع وفرمائیله- ما واوریدل چې نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ رکوع کښې سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْم لوستل، بیا (پهٔ دویم رکعت کښې) رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سورهٔ اَنعَام شروع کړو- [1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

---

1 ... سُبُلُ الْھُدیٰ، جماع ابواب سیرته ...الخ، الباب الثالث فی وقت قیامه ...الخ، جلد:8، صفحه:278 ملتقطًا-

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! تاسو وکتل چې بخښونکي آقا، د دواړو جهانو داتا، نُورِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به څومره په کثرت سره او څومره په پابندۍ سره عبادت کولو- بیا دې ته هم غور وکړئ چې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مصروفیات څومره وو؟ په مونږ باندې عام طور د یو کور ذمه واري وي، د یو کور د یو څو کسانو پالنه وي خو خوږ آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټول کائنات نبي دے، د نبوت فریضې به یې هم پوره کولې، صحابهٔ کرامو عَلیهِمُ الرِّضوَان ته به یې دِین هم ښودلو، د نیکۍ دعوت به یې هم ورکولو، غم خواري به یې هم فرمائیله، د مریضانو تپوس به یې هم کولو، د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې به خلقو فریادونه راوړل، د هغوئي فریادونه به یې هم اوریدل او زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خو دا شان دے چې څناورو به هم هغوئي ته خپل دردونه بیانول، اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په هغوئي باندې هم شفقت او رحمت فرمائیلو- داسې سوچ کوئ! څومره مصروفیات وو، د دې ټولو مصروفیاتو باوجود به خوږ آقا، نُورِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پابندۍ سره او په کثرت سره د الله پاک عبادت کولو-

## دُنیا ته د راتللو مقصد عبادت دے

آه یو مونږ یو چې د هر کار د پاره وخت اوباسو، د پیسو ګټلو د پاره وخت ډیر دے ✿ د سیل کولو د پاره وخت ډیر دے ✿ د موبائل او سوشل میډیا (***Media Social***) د پاره مونږ هر وخت تیار یو ✿ که څوک مداري راشي نو د بعضو سره د هغهٔ نه د راتاویدو د پاره هم وخت وي ✿ د لوبو د پاره هم وخت شته ✿ په سړکونو باندې د غټو غټو ایل سي ډیز (***L.C.Ds***) لګولو او د شپې تر ناوخته پورې د میچ وغیره کتلو او درز غوبل کولو د پاره هم وخت میلاؤیږي- آؤ! مونږ ته که وخت نهٔ میلاؤیږي نو صرف د عبادت د پاره نهٔ میلاؤیږي ✿ که مونږ ته وخت نهٔ میلاؤیږي نو د اشراق او څاخت د پاره نهٔ میلاؤیږي

❀ که مونږ ته وخت نۀ میلاؤیږي نو د اوابینو د نفلونو د پاره نۀ میلاؤیږي ❀ که مونږ ته وخت نۀ میلاؤیږي نو پۀ نیکو اجتماعاتو کښې د شرکت کولو د پاره وخت نۀ میلاؤیږي ❀ پۀ مَدَني قافلو کښې د سفر وخت نۀ وي ❀ د نیکۍ د دعوت ورکولو د پاره وخت نۀ وي ❀ د عِلم زده کولو د پاره وخت نۀ وي ❀ که وخت نۀ وي نو د قبر او د اخرت د تیارۍ د پاره وخت نۀ وي۔

اے کاش چې زمونږه د اخرت فِکر نصیب شي، کاش چې زمونږه د خپل خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عملي طور د خپل آئیډیل (***Ideal***) جوړولو او د رسول الله صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پاک سیرت پۀ ژوند کښې پۀ نافذ کولو کښې کامیاب شو۔ کاش چې د عبادت توفیق مو نصیب شي۔

عبادت میں گزرے مِری زِندگانی | کرم ہو کرم یاخدا! یااِلٰہی![1]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## (2): د اخرت نه ویریدونکے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** پۀ 23 سیپاره، سورۀ زُمر آیت: 9 کښې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ دویم صفت دا بیان شو چې

يَحْذَرُ الْاٰخِرَةَ (پارہ:23، سورۃ الزمر:9) | **ترجمۂ کنزُالعِرفان:** د اخرت نۀ ویریږي۔

یعنې حضرت عثمان رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د اخرت نه ډیر ویریدونکے وو۔

## د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د الله پاک نه د ویریدو واقعات

❀ د مسلمانانو دریم خلیفه حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د الله پاک نه داسې ویریدونکے وو چې کله به د چا د قبر خوا ته ودریدو نو دومره به یې ژړل چې پۀ اوښکو

1...وسائل بخشش، صفحه:105۔

به د هغوئي کیره مبارکه لـمدیدله۔ [1] یو ځل هغوئي د اللّٰه پاک د ویرې د غلبې له وجهې وفرمائیل: که زهٔ د جنَّت او د دوزخ پهٔ مینځ کښې ودرولے شوم او ما ته دا معلومه نهٔ وي چې ما ته به جنَّت ته د تللو حکم کیږي که د دوزخ طرف ته به مې لیږلے شي، هٰغه وخت به زهٔ دا خوښووم چې هلته اِیره شم۔ [2]

اللّٰه! اللّٰه! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** غور وکړئ چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قطعي جنَّتي دے، هغوئي ته د جنَّت مالِک، قاسِمِ نعمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پخپله خُله مبارکه یو ځل نهٔ بلکې څو کرته د جنَّت زیرے ورکړے دے بلکې هغوئي خو د هٰغې اوچتې مرتبې صحابي دے چې هغوئي یو ځل نهٔ، څو څو ځله د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه جنَّت اخستے دے، غرض دا چې د هغوئي پهٔ جنَّتي کیدلو کښې هیڅ شک نشته خو بیا هم هغوئي د اللّٰه پاک د پټ تدبیر نه دومره ویریدلو، هغوئي هم د اللّٰه پاک د ویرې د غلبې پهٔ وجه دا وفرمائیل چې هسې نهٔ داسې وشي، ما ته د جنَّت پهٔ ځائے دوزخ ته د تللو حکم وکړے شي، ځکه به زهٔ دا خوښووم چې هُم د جنَّت او د دوزخ پهٔ مینځ کښې ختم شم۔

کاش! ایسا ہوجاتا خاک بن کے طَیبہ کی | مصطفٰے کے قدموں سے میں لپٹ گیا ہوتا [3]

## د غلام نه یې معافي وغوښتله

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ څومره ښکلے شان دے، هغوئي د اللّٰه پاک نهٔ ډیر ویریدونکے وو، ځکه به یې چا ته برناحقه تکلیف نهٔ رسولو، یو ځل هغوئي خپل یو غلام ته وفرمائیل: ما یوه ورځ ستاسو غوږ تاؤ کړے وو، ځکه تهٔ زما نه د دې بدله واخله۔ [4]

---

1...ترمذی، کتاب الزہد، صفحه:554، حديث:2308۔
2...الزہد للامام احمد، زہد عثمان بن عفان رضی اللہ عنه، صفحه:169، حديث:687۔
3...وسائلِ بخشش، صفحه:159۔
4...الریاض النضرۃ، الباب الثالث، الفصل التاسع، جز:3، صفحه:40۔

www.dawateislami.net

سُبْحٰنَ الله! آیا چا چرته لیدلي دي چې آقا د خپل غلام نه یا سیټھ د خپل نوکر نه معافي غواړي، بنه داړه هغۀ ته د بدلې اخستو آفر کوي---؟ آؤ! ځوک چې د الله پاک نه ویریدونکي وي، ځوک چې ویریږي چې هسې نه پۀ ظاهره نظر راتلونکې زما خطا هم د قیامت پۀ ورځ د راګیریدو سبب جوړ شي هغوئي د خپل نوکر نه خو څۀ چې پۀ دنیائي لحاظ سره د ځان نه د ډیرې کمې درجې او مرتبې لرونکي نه هم پۀ معافي غوښتو نۀ شرمیږي- ولې؟ ځکه چې هغوئي د الله پاک نۀ ویریږي-

## چې زما رَبّ زما نه ناراضه نشي

حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: یو ځل حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بیمار شو، سرکار عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابۀ کرام عَلیهمُ الرِّضوَان د سره ځان سره کړل او د هغوئي د تپوس د پاره یې تشریف یوړلو نو اوئې کتل چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ مخ د زمکې طرف ته کړے دے او ملاست دے، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: عثمانه! څۀ وشو، خپل سَر ولې نۀ راوچتوې؟ عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ما له د الله پاک نه حیا راځي- سرکار عالي وقار، مکي مدني تاجدار صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائیل: ولې حیا درځي؟ عرض یې وکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! زۀ ویریږم هسې نۀ چې زما پاک پروردګار زما نه ناراضه شوے نۀ وي---!! (1)

(اَللهُ اَکْبَر! اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ د ګناه هیڅ یو کار نۀ وو کړے، د الله پاک د ناراضګۍ هیڅ یو کار یې نۀ وو کړے، خو ځوک چې ربنتونے عاشق وي، هغۀ هر وخت بس پۀ دې ویره کښې وي چې چرته زما محبوب زما نه ناراضه نشي، د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ سره هم څۀ داسې ویره وه، هغوئي د زمکې طرف ته پۀ مخ کولو دې د پاره ملاست وو او سر یې نه اوچتولو، لکه چې د خپله ځانه یې د ملامتیا اظهار

1...ریاض النضرۃ، الباب:الثالث، فصل:السادس، جز:3، صفحه:20-

کولو-) چې کله سلطانِ انبیاء محبوبِ خُدا صَلَّی اللہُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپل خوږ صحابي حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ خبره واوریدله نو اوئې فرمائیل: عثمانه! دا جبریل عَلَیۡهِ السَّلَام دے، ما له خبر راکوي چې تهٔ د اسمان والؤ نُور یې، د زمکې والؤ او د جنَّت والؤ ډیوه یې- (1)

| | |
|---|---|
| جو دِل کو ضیا دے جو مقدر کو جِلا دے | وہ جلوۂ دیدار ہے عثمانِ غنی کا |
| جس آئینہ میں نُورِ اِلٰہی نظر آئے | وہ آئینہ رُخسار ہے عثمانِ غنی کا(2) |

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** کاش چې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ پهٔ وسیله زمونږه هم د الله پاک نه ویره نصیب شي، کاش چې مونږه هم هر وخت دا اِحساس دردوي چې آه! چرته زما رَبّ زما نه ناراضه نشي- آه! چرته پهٔ قبر کښې راګیر نکړے شم، د قیامت پهٔ ورځ رانه حساب وانخستے شي، هئ! هئ! که د قیامت پهٔ ورځ باندې زما ګناه نامه برسیره کړے شوه، زما د ګناهونو پهٔ وجه زما رَبّ زما نه ناراضه شو، آه! که زهٔ د رحمت نه محرومه کړے شوم او دوزخ ته د غورځولو حکم وکړے شو نو زما به څهٔ کیږي---!!

| | |
|---|---|
| آج بنتا ہوں معزز جو کھُلے حشر میں عیب | آہ! رُسوائی کی آفت میں پھنسوں گا یارَبّ! |
| گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہو گی | ہائے میں نارِ جہنّم میں جلوں گا یارَبّ! |
| دَردِ سَر ہو یا بُخار آئے تَڑپ جاتا ہوں | میں جہنّم کی سزا کیسے سہوں گا یارَبّ! |
| عَفْو کر اور سدا کے لئے راضی ہو جا | گر کرم کر دے تو جنّت میں رہوں گا یارَبّ! (3) |

## د الله پاک د ویرې حاصلولو طریقه

الله پاک دې مونږ ته د خپلې ویرې دولت رانصیب کړي- که د الله پاک د ویرې د نعمت نه مالا مال کیدل غواړئ نو ❀ دې د پاره د قرآنِ کریم د تلاوت معمول جوړ کړئ! خاص طور هُغه آیتونه پهٔ کومو کښې چې د الله پاک د عذاب، د دوزخ، د قیامت ذِکر دے،

1...ریاض النضرة، الباب الثالث، الفصل السادس، جز:3، صفحه:20-
2...ذوقِ نعت، صفحه:81-
3...وسائلِ بخشش، صفحه:85-

د هغه آيتونو ترجمه او تفسير لولئ او په ذهنونو کښې يې کښينوئ او ښه په توجه سره بيا بيا د هغه آيتونو تلاوت کوئ! ❁ په حديثونو کښې **د الله پاک نه د ويريدو** بيان دے، داسې حديثونه لولئ! ❁ **د الله پاک نه د ويريدونکو** بزرګانِ دِين سيرت لولئ! ❁ جدول جوړ کړئ او روزانه يا کم از کم په هفته کښې يو ځل هديرې ته حاضري کوئ! هلته فاتحه شريف هم لولئ او ورسره ورسره په دې خبره باندې هم غور کوئ چې ډير زر به زۀ هم قبر ته ځم، هغه وخت به زما د بے وسئ څۀ حالت وي؟ د قبر په معاملو باندې غور هم کوئ۔ د دې په برکت باندې به مو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! د الله پاک نه د ويرې دولت نصيب شي۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

## (3): د الله پاک د رحمت نه ډير اُميد لرونکے

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! په آيت مبارک کښې د حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ دريم صفت بيان شو:

| | |
|---|---|
| وَيَرْجُوْا رَحْمَةَ رَبِّهٖ ؕ (پاره:23، سورۀ الزمر:9) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او د خپل رَبّ د رحمت اُميد ساتي۔ |

يعنې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د الله پاک د رحمت نه ډير اُميد لرونکے دے۔

## وِيره او اُمِّيد دواړه ضروري دي

دا هم ډير اهم صِفت دے۔ د الله پاک رحمت ډير لوئي دے، د هغې نه چرې هم نا اُميده کيدل نۀ دي پکار۔ الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| لَا تَقْنَطُوْا مِنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ ؕ (پاره:24، سورۀ الزمر:53) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د الله د رحمت نۀ مۀ نا اُميده کيږئ۔ |

دلته دا خبره هم د ياد ساتلو ده چې د الله پاک ويره او د هغۀ د رحمت نه اُميد ساتل

دواړه ضروري دي، چې صرف د رب د ويري غلبه وي او بنده د رحمت نه بالکل اميد نهٔ ساتي دا هم صحيح خبره نهٔ ده او د الله پاک د رحمت نه طمع وي خو بنده د الله پاک د ګرفت نه بالکل بے ويرې شي، دا هم صحيح نهٔ دي- حُجَّةُ الاِسلَام حضرت امام محمد بن محمد بن محمد غزالي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ پهٔ خپل کتاب **مِنهَاجُ العَابِدِين** کښې ويرې او اُميد ته د **عَقَبَةُ الْبَوَاعِث** نوم ورکړے دے يعني ويره او اُميد هٔغه خيزونه دي کوم چې انسان له د عبادت رغبت ورکوي- ځکه د يو نيک او عبادت ګزار، ښه مسلمان جوړيدو د پاره ضروري دي چې مونږه د الله پاک د رحمت نه اُميد هم وساتو او د هغهٔ د پټ تدبير نه، د هغهٔ د غضب نه پهٔ ويره کښې هم اوسو-

## پهٔ معاشره کښې د مايوسئ مثالونه

د بده قسمته نن سبا چې څنګه د الله پاک د ويرې کمے دے، داسې مايوسي هم خوريږي- ✿ يوه ورځ چې پهٔ دکان کښې امدن کم شي نو زړهٔ پريشانه شي ✿ که بيمار شو نو مايوسي ✿ که څهٔ پريشاني راشي نو مايوسي ✿ مصيبت راشي نو مايوسي ✿ که زمونږه ځوانان پهٔ امتحان کښې فيل شي نو مايوسه شي ✿ بعضې نادانه خو د مايوسئ کندې ته داسې پريوځي چې پهٔ تنګدستئ، غريبئ، پريشانئ او امتحان وغيره کښې د ناکامئ نه مايوسه شي او د خود کشئ لار اختيار کړي- **اَلاَمَان وَالحَفِيظ**

الله پاک دې مونږه محفوظ کړي- د الله پاک د رحمت نه هيڅکله هم مايوسه کيدل نهٔ دي پکار- د مسلمانانو د څلورم خليفه حضرت علي الْمُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه پوښتنه وکړے شوه:د ټولو نه لويه ګناه څهٔ ده؟ اوئې فرمائيل: د الله پاک د پټ تدبير نه بے ويرې کيدل او د هغهٔ د رحمت نه مايوسه کيدل- (1)

میں نے مانا کہ حامِدؔ گنہگار ہے | مَعۡصِیَت کیش ہے اور خَطا کار ہے

1...کنزالعمال، کتاب الاذکار، جز:2، جلد:1، صفحه:167، حديث:4322 ملتقطًا-

میرے مولیٰ مگر تُو تو غفّار ہے | کہتی رحمت ہے مجرِم سے لَاتَقْنَطُوْا
اللّٰہ اللّٰہ اللّٰہ اللّٰہ (1)

## د رحمت د اُمید یوه تقاضا

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! زمونږه په معاشره کښې یوه ډیره عجیبه معامله ده، یو طرف ته خو مایوسي عامه ده، په رزق کښې تنګي راغلې ده، که څۀ پریشاني راشي، غم، تکلیفونه راشي نو خلق مایوسه شي، بل خوا د اُمید د غلبې دا حالت دے چې کله چا بے نمانځه له د نمونځ دعوت ورکړے شي، د یوې ګناه د پریښودو، د نیک کار کولو دعوت ورکړے شي نو هغۀ جواب ورکوي: مولانا صاحبه! اللّٰه پاک ډیر مهربانه دے، هغۀ به مونږه اوبخښي- دا د بے باکۍ والا جملې دي- د داسې خبرو نه مونږ ته بچ کیدل پکار دي-

یاد ساتئ چې د اللّٰه پاک د رحمت نه د اُمید ساتلو هیڅکله هم دا مطلب نۀ دے چې مونږ د هغۀ نافرمانۍ شروع کړو، د فرائضو او واجباتو هم بالکل پرواه نۀ کوو او وایو چې اللّٰه پاک رحمان او رحیم دے، که ګناه وکړو نو هم څۀ خبره نۀ ده، اللّٰه پاک به مو اوبخښي- د اللّٰه پاک د رحمت نه د امید ساتلو هم په اصل کښې تقاضا دا ده چې مونږه په کثرت سره عبادت وکړو، فرائض پوره کړو، واجبات هم پوره کړو، نفلي عبادتونه هم ډیر وکړو، بیا د اللّٰه پاک د رحمت نه اُمید هم ساتو چې هغۀ رَبِّ رحمان او رحیم دے، زمونږه ناقصه عبادت به په خپله پاکه بارګاه کښې قبول کړي او په خپل رحمت باندې به راته جنَّت راعطا کړي-

## د رحمت د اُمید ساتلو اصلي مطلب

حضرت یحيٰ بن مُعَاذ رازي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د اللّٰه پاک ډیر نیک بنده وو، په هغوئي باندې به عام طور د رحمت د اُمید غلبه وه- د دې باوجود به هغوئي په کثرت سره عبادت کولو، یوه ورځ ترینه چا پوښتنه وکړه: عالي جاه! په تاسو باندې اُمید غالب دے خو تاسو عبادت داسې کوئ

1...بیاضِ پاک، صفحه:12۔

لکه چې پۀ تاسو باندې د الله پاک د ويرې غلبه وي- اوئې فرمائيل: څويه! واوره---!! عبادت پريښودل ګمراهي ده او اُميد د ايمان دوه ستنې دي- پۀ چا باندې چې د الله پاک ويره غالبه وي، هغۀ د خپلې ويرې د لرې کولو او د الله پاک د عذاب نه د بچ کيدو د پاره عبادت کوي او پۀ چا باندې چې د رحمت اُميد غالب وي، هغۀ د الله پاک د رحمت د حقدار جوړيدو د پاره عبادت کوي، تر څو پورې چې عبادت نۀ وي، نۀ ويره څۀ فائده ورکوي او نۀ اُميد- آؤ! که بنده عبادت کوي نو اُميد او ويره دواړه عبادت جوړ شي- (1)

دا دے د رحمت د اُميد اصلي مفهوم---!! مونږ له د الله پاک د رحمت نه طمع ساتل دي، ضرور ساتل پکار دي او د دې سره سره عبادت هم کول دي، نـمونځونه هم پينځۀ واړه هغه هم د جَمعې سره پۀ جومات کښې ادا کول دي، روژې هم نيول دي، تلاوت هم کول دي، باقي نيک اعمال هم کول دي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

## د بيان خُلاصه

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** مونږه واوريدل چې حضرت عثمانِ غني رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ څومره د اوچتې مرتبې صحابئ رسول دے، د قرآنِ کريم ډير آيتونه د هغوئي پۀ شان کښې نازل شوي دي، پۀ قرآنِ کريم کښې پۀ يو ځائے کښې د هغوئي درې اوصاف بيان شول: (1): هغوئي د شپې عبادت کوونکے دے (2): د الله پاک نه ويريدونکے دے (3): او د الله پاک د رحمت نه اُميد لرونکے دے-

الله پاک دې د حضرت عثمان رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ پۀ وسيله مونږ ته هم د دې دريو واړو اوصافو اختيارولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

---

1...کَشۡفُ الۡمَحۡجُوب، صفحه:184 بتغير قليل۔

# نیک اعمال (Naik Amal) موبائل ایپلي کیشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د نیک جوړیدو او د نیکو عملونو زیاتولو د پاره د دعوتِ اسلامي **I.T** ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کیشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې **نیک اعمال** (**Naik Amal**) دے۔ دا ایپلي کیشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، په دې ایپلي کیشن کښې د اسلامي ورونړو، اسلامي خوئیندو او طالب علمانو د پاره بیله بیله رِساله موجوده ده ❀ دا په 6 مختلفو ژبو ❀ انګلش ❀ اُردو ❀ هندی ❀ بنګالی ❀ ګجراتی او ❀ سندهی کښې استعمالیدے شي ❀ په دې کښې په مختلفو نیکو اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي ❀ د هر سوال لاندې 30 خانې دي، هره ورځ د خپلې خوښې څۀ وخت مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه واخلئ، د دې مطابق ژوند تیروئ، اِنۡ شَآءَ اللہُ الۡکَرِیۡم! د دې په برکت به د ګناهونو نه د بچ کیدو او د نیکو کولو ذهن جوړیږي، د زړۀ صفا والے به نصیب کیږي او کردار به مو صفا سوترا، ښکلے کیږي۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

راځئ چې د بیان په اخره کښې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمی په ګوته کول)

**مسئله:** په جلسه کښې کم از کم یو ځل د سُبۡحٰنَ اللہ! وئیلو په مقدار کیناستل واجِب دي۔

**وضاحت:** د دوو سجدو په مینځ کښې کیناستو ته **جلسه** وئیلے شي۔ ډیر خلق په دې غلطی کولو لیدلے کیږي چې په تادی کښې په جلسه کښې پوره نۀ کښیني، د یوې سجدې نه سر اوچت کړي، لا یـې ملا نیغه کړې نۀ وي چې بلې سجدې له لاړ شي، داسې جلسه نۀ پوره کیږي، واجِب پاتې کیږي او داسې کولو والا ګنهګاریږي۔ یاد ساتئ

چې پهٔ جلسه کښې نيغ کيناستل او کم از کم يو ځل د سُبْحٰنَ الله! وئيلو پهٔ مقدار ايساريدل واجب دي، که پهٔ هيره جلسه پوره نکړے شوه نو سجدۀ سهو به واجب کيږي او که قصداً عمداً يې داسې وکړل (يعني پهٔ جلسه کښې پوره نۀ کيناستو) نو نمونځ به واجِبُ الاِعَادہ وي يعني نمونځ به بيا کول واجِب وي۔ (1)

الله پاک دې مونږ ته د نمونځ زده کولو او د دې پهٔ صحيح طريقه د ادا کولو توفيق راعطا کړي۔ اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

## يَا مُعِزُّ

څوک چې د ماسخوتن د نمونځ نه پس د جُمعې پهٔ شپه 140 کرته يَا مُعِزُّ لولي نو د مخلوق پهٔ نظر کښې به يې عزت او حرمت او هيبت زياتيږي۔اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِيم! (2)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...فتاویٰ اہلسنت، غیر مطبوع، ریفرینس نمبر: Nor:12802 ملخصاً۔
2...مدنی پنج سورہ، صفحه:249۔